افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

سپین غر د لوړو زده کړو موسسه

اداري او مالي چارو معاونیت

اداري چارو آمریت

# فیسونو (حق الاجرت) لایحه


بسم الله الرحمن الرحیم

# فهرست (لیکلړ)


**اول فصل** ........ 1

**عمومیات** ........ 1

**اوله ماده: سریزه** ........ 1

**دویمه ماده: مبناء** ........ 1

**دریمه ماده: د لایحې اهداف** ........ 1

**څلورمه ماده: د لایحې تائیدي او تطبیق** ........ 2

**پنځمه ماده: کلیدي اصطلاحات** ........ 2

**دوهم فصل** ........ 3

**د حق الاجرت او حق الشمول (داخلې) فیس مقدار او د ورکړې طریقه** ........ 3

**شپږمه ماده: د فیس اندازه** ........ 3

**اوومه ماده: حق الشمول (داخلې) فیس** ........ 5

**اتمه ماده: د تادیې طریقه** ........ 6

**دریم فصل** ........ 7

**تحصیلي خدمات، تخفیفونه او سکالرشیپونه** ........ 7

**نهمه ماده: با کیفیته خدمات** ........ 7

**لسمه ماده: د تخیفیف کځورې** ........ 7

**یولسمه ماده: سکالرشیپونه** ........ 8

**څلورم فصل** ........ 8

**متفرقه موارد** ........ 8

**دولسمه ماده: وړیا خدمتونه** ........ 8

**دیارلسمه ماده: سالم رقابت** ........ 9

**څوارلسمه ماده: سالم رقابت** ........ 9

## اول فصل
## عمومیات

### اوله ماده: سریزه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) په (۱۳۸۸) لیږدیز لمریز کال کې ایجاد، د لوړو زده کړو وزارت سره په نولسمه ګڼه ثبت او د ننګرهار ولایت په مرکز جلال آباد ښار کې یې په فعالیت پیل وکړ، چې اوس مهال په عمومي طب، غاښونو طب او طبي تکنالوژۍ پوهنځیو کې د لسانس په کچه محصلین روزي، او خپلې ټولې چارې د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو، لوایحو، طرز العملونو، معیارونو او حکمونو پر اساس په معیاري ډول مخته وړي.

موسسه د خپلو پورته علمي برنامو، څېړنو، اداري او نورو نوښتګرو فعالیتونو د مالي ملاتړ لپاره د محصلینو څخه د حق الشمول او حق الاجرت د اساسي منبع تر څنګ نور ګڼ شمیر عواید لکه د بهادار اسنادو فیسونه، د څېړنیزو پروژو له لارې فیسونه د قوانینو او طرز العملونو په رڼا کې ترلاسه کوي.

دا چې د محصلینو څخه د فیسونو راټولول (ترلاسه کول) یو له مهمو ستونزو څخه ګڼل کیږي نو یې په همدې اساس د فیسونو د اساسي او فرعي سرچینو په لړ کې سپین غر د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو د فیسونو ترلاسه کولو او د تادیاتو طریقو د اسانتیا په خاطر خپلو محصلینو او ښکیلوو خواوو ته روښانه او شفاف اصول او طرز العملونه وړاندې کوي چې د هغې پر بنسټ خپل مسؤلیتونه په اصولي او مسؤلانه ډول ترسره کړي، او مؤسسه د سمسترونو او کال په جریان کې خپلې ټاکل شوې بودیجې ټول عملیاتي او انکشافي مصارف په اغیزمن او اصولي ډول ترسره کړي، ځکه خصوصي لوړو زده کړو مؤسسات د علمي او اداري خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د لګښتونو پر بنسټ بودیجې ته عاجله او پر وخت اړتیا لري او د یادو بودیجو د تمویل اساسي سرچینه د محصلینو فیسونه بلل کیږي، او دا فیسونه یو منظم او د تطبیق وړ اوږد مهاله طرز العمل ته اړتیا لري، تر څو د محصلینو د فیسونو او د هغې تادیات په منظم ډول تر خپل پوښښ لاندې راولي.

### دویمه ماده: مبناء

د سپین غر د لوړو زده کړو موسسې (ننګرهار) د فیس لایحه د خصوصي لوړو زده کړو مقررې د (۲۶،۲۷،۲۸) مو مادو د حکمونو او د موسسې د اساسنامې د () مادې پر اساس ترتیب او په اړونده برخو کې د تطبیق وړ ده.

### دریمه ماده: د لایحې اهداف

په سپین غر د لوړو زده کړو موسسه (ننګرهار) کې د فیسونو لایحه د لاندې موخو د لاسته راوړلو لپاره تصویب او له اړونده پړاونو څخه تیریږي:

1. په موسسه کې د محصلینو د فیسونو په اړه د چارو تنظیمول.

2. د محصلینو لپاره د نورو علمي، تخنیکي، اقتصادي ستونزو، فرهنګي خدماتو په فیسونو او لګښتونو کې د تخفیفونو او اړوند چارو تنظیمول.
3. د لوړو زده کړو غوښتونکو لپاره په ټیټه بیه د زده کړیزه خدماتو ته د لاسرسي مساوي فرصتونو اسانه کول.
4. د فیسونو د ټاکلو لپاره د اړونده شاخصونو او سلسلو لپاره واضح تعریف.
5. وړ او با استعداده محصلینو ته د مالي مرستو او سکالرشیپونو د اړونده چارو تنظیمول.
6. د فیسونو د ورکړې (قسطونو، میاشتو) لپاره د لازمو ترتیباتو وړاندې کول.

## څلورمه ماده: د لایحې تائیدي او تطبیق

دا لایحه د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې لخوا ترتیب او د موسسې د علمي شورا د تائیدۍ وروسته د خصوصي لوړو زده کړو مقررې د (۲۶) مې مادې د (۴) بند چې داسې سراحت لري (د حق الاجرت (فیس) لایحه د خصوصي لوړو زده کړو موسسؤ د اتحادیې له تائید او د لوړو زده کړو وزارت د منظورۍ څخه وروسته د تطبیق وړ ده) تائید او یوازې په سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه کې د تطبیق وړ ده.

## پنځمه ماده: کلیدي اصطلاحات

1. **حق الشمول (داخلې فیس):** مؤسسه کولای شي د شمولیت په وخت کې یوائې د یوه ځل لپاره له محصل څخه د حق الشمول(داخلې)په نوم مبلغ واخلي.
2. **حق الاجرت:** مؤسسه کولای شي د اړوندې لایحې سره سم د تحصیلي خدمتونو د وړاندې کولو په بدل کې له محصلانو څخه د حق الاجرت په نوم یو مبلغ واخلي.
3. **کانکور ازمویني فیس:** دا هغه فیس دې چې په کانکور ازموینه کې نوماندان یې د ثبت نام په پروسه کې د کانکور ازموینې په برخه کې د معلومو مصارفو د ترسراوي په بدل کې موسسې ته ورکوي.
4. **تحصیلي لګښتونه:** دا هغه فیسونه (مبلغ) دی چې محصلین یې د تحصیلي خدماتو د ترلاسه کولو لکه (اضافي تدریس، علمي سفرونو، ازموینو، چانسونو، عدم کریدیت مضامینو، معزرتي ازموینود معلوم او ټاکلي مصرف په اندازه د خپل دایمي فیس سربیره ورکوي.
5. **کانکور سکالرشیپونه:** موسسه د نوم لیکنې په صورت کې په ځینو پوهنځیو کې د محصلینو د جذب د زیاتوالي او لوړو زده کړو ته د تهولنې د وګړو د هڅونې په موخه ځینې سکالرشیپونه اعلان کړي، چې د سکالرشیپونو د نوعیت، فیصدۍ او شرایطو په اړه به د موسسې د مالي کمېټې او د ادای د مالي امکاناتو په نظر کې نیولو سره د پریکړې له مخې تطبیق کیږي.
6. **برحاله محصلینوته سکالرشیپونه:** موسسه د هر سمستر د نهایي پایلو څخه وروسته د کال پسرلني او خزاني سمستر ممتازه (اول نمره) محصلینو ته موسسې د مالي امکاناتو په نظر کې نیولو سره د موسسې د مالي کمېټې د پریکړې له مخې ځینې لنډ مهاله سکالرشیپونه وټاکي.

7. **مالي مرستې:** مؤسسه د امکان په صورت کې په خپلو کلنیو مالي پلانونو او بودیجو کې د برحاله او یا هم نوو جذبیدونکو غریبو، شهداء، معلولینو او معیوبینو سره مالي مرستې کوي، یادې مالي مرستې د محصل د پوره پیژندنې وروسته د مالي کمېټې لخوا وضع کیږي.
8. **د ډيپلوم او ترانسکریپټ فیس:** دا یو ټاکلې مقدار فیس (مبلغ) دی چې دهغه فارغه محصلینو څخه اخیستل کیږي چې په بریالیتوب سره یې د نظري زده کړو او ستاژ دوره بشپړه کړې وي او غواړي چې دولتي ډيپلوم او ترانسکریپت (مصؤن اسناد) ترلاسه کړي.

## دوهم فصل

## د حق الاجرت او حق الشمول (داخلې) فیس مقدار او د ورکړې طریقه

### شپږمه ماده: د فیس اندازه

1. د فیس اندازه په سپین غر د لوړو زده کړو موسسې (ننګرهار) کې د تحصیلي خدماتو کیفیت، مناسب ځای او چاپیریال، د تدریس طرز، اداري او علمي ظرفیت، علمي شالید، د کیفیت لوړونې پړاونو اخیستل او تجاربو په نظر کې نیولو سره د تخصص، علمي کادر غړو، لوړو تحصیلي درجو اوتجربو بشري منابعو، علمي او تدریسي اسانتیاوې، تحقیقي اسانتیاوې، غوره عملي او نظري تدریس، د غوره او معیاري تدریسي روغتون، مجهزو لابراتوارونو او د موسسې په دایمي ملکیت کې د خپلې ودانۍ په لرول سره د لاندې جدول له مخې ټاکل کیږي، چې د کال د هر کال په جریان کې به د هیواد، سکتور، ولایت، اداري، او د ټولنې اقتصادي حالاتو ته په کتو سره د تغیر وړ دی.

په سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه کې د پوهنځیو هرې دورې نوي جذب شویو محصلینو فیسونه د لاندې دلایلو پر بنسټ ثابت نه دي:

1. د اداري د لګښتونو کچه
2. په ټولنه کې د اقتصادي وضعیت کیفیت
3. په سکتور کې بدلونونه
4. د هېواد په سیاسی اوضاع کې تغیرات
5. د لوړو زده کړو وزارت او ازموینو ملي اداري په طرزالعملونو کې تعدیلات او تغیرات

په پورته شاخصونو کې د تغیراتو له کبله د پوهنځیو په تفکیک د هرې دورې محصلینو فیسونه ممکن توپیر ولري. د هرې نوې دورې لپاره د محصلینو د جذب وړاندې به د مؤسسې مالي چارو کمېټه د پورته شاخصونو په پام کې نیولو سره د امناء هیئت په مشوره او موافقه د پوهنځیو لومړي سمستر محصلینو لپاره د فیسونو اندازې تعینوي او د محصل لخوا د تعهد نامې په لاسلیک سره به د ستاژ په شمول د ټولې تحصیلي دورې لپاره د تطبیق وړ وي. البته د ستاژ دورې فیس کچې او تخفیف په هکله به د تدریسي روغتون د شرایطو او

حالاتو په پام کې نیولو سره مالي چارو کمېټه پرېکړه کوي. د پوهنځیو په تفکیک د سمستروار فیس (حق الاجرت) اندازې د مالي چارو کمېټې لخوا د هېواد اقتصادي وضعیت او مؤسسې مالي حالت ته په کتو تائیدیږي.

##### د تحصیلي رشتو د فیسونو اندازه

| گڼه | تحصیلي رشته | د فیس اندازه | تفصیل (کتنې) |
|---|---|---|---|
| 1 | عمومي طب پوهنځی | 75000 اف | سمستروار فیس |
| 2 | غاښونو طب پوهنځی | 30000 اف | سمستروار فیس |
| 3 | طبي تکنالوژۍ پوهنځی | 20000 اف | سمستروار فیس |

2. سپین غر د لوړو زده کړو موسسه (ننگرهار) کولی شي چې د علومو د لویو کټگوریو پر بنسټ خپلو تحصیلي رشتو د مصارفو په تعقیب خپل فیسونه وټاکي او په اصولي ډول یې طې مراحل کړي.
3. موسسه د تحصیلي کلونو په جریان کې اړونده برحاله سمسترونو ته چې په زده کړو بوخت وي د فیس اندازه د معتبرو دلایلو او د لوړو زده کړو وزارت د موافقې پرته نه بدلیږي.
4. د فیس اندازه چې د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننگرهار) لخوا ټاکل کیږي، او د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو د اتحادیې د تائیدۍ او د لوړو زده کړو وزارت د منظورۍ وروسته د فیسونو د توضیحي دلایلو په پام کې نیولو سره محصلینو ته اعلانیږي.
5. د حق الاجرت (فیس) اندازه د انفلاسیون نرخ په پام کې نیولو سره بیا کتنه او بدلیدای شي.
6. په سپین غر د لوړو کړو مؤسسې (ننگرهار) کې نور فرعي فیسونو (نور تحصیلي لگښتونه) اندازه د لاندې جدول له مخې ټاکل کیږي او د محصل لخوا د اړونده حالت د واقع کیدو په صورت کې تادیه کیږي.

##### د بهاء لرونکو (مصؤن) سندونو فیسونه

| گڼه | د سند نوعیت | د فیس اندازه | | تفصیل (کتنې) |
|---|---|---|---|---|
| | | موسسې ته ۲۰٪ تادیه | وزارت ته فیس تحویلي | |
| 1 | په رسمي ژبو د دیپلوم فیس | 200 اف | 1000 اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 2 | په رسمي ژبو د ترانسکریپت فیس | 200 اف | 1000 اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 3 | په بین المللی ژبو د دیپلوم فیس | 200 اف | 1000 اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 5 | په بین المللی ژبو د ترانسکریپت فیس | 200 اف | 1000 اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 6 | د ستاژ د تصدیق فیس | 200 اف | 1000 اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 7 | نور تصدیقونه او د فراغت نور اسناد | 100 اف | 500 اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 8 | په رسمي ژبو د دیپلوم فیس (مثنی) | 400 اف | 2000 اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 9 | په رسمي ژبو د ترانسکریپت فیس (مثنی) | 400 اف | 2000 اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 10 | په بین المللی ژبو د دیپلوم فیس (مثنی) | 400 اف | 2000 اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 11 | په بین المللی ژبو د ترانسکریپت فیس (مثنی) | 400اف | 2000اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 12 | د ستاژ د تصدیق فیس (مثنی) | 400اف | 2000اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 13 | نور تصدیقونه او د فراغت نور اسناد (مثنی) | 200اف | 1000اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 14 | په رسمي ژبو د دیپلوم فیس (دویم مثنی) | 600اف | 3000اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 15 | په رسمي ژبو د ترانسکریپت فیس (دویم مثنی) | 600اف | 3000اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 16 | په بین المللی ژبو د دیپلوم فیس (دویم مثنی) | 600اف | 3000اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 17 | په بین المللی ژبو د ترانسکریپت فیس (دویم مثنی) | 600اف | 3000اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 18 | د ستاژ د تصدیق فیس (دویم مثنی) | 600اف | 3000اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |
| 19 | نور تصدیقونه او د فراغت نور اسناد (دویم مثنی) | 300اف | 1500اف | د غوښتنې په صورت کې (حتمي) |

### د نورو متفرقه خدماتو فیسونه

| گڼه | خدماتو نوعیت | تفصیل (کتنې) |
|---|---|---|
| 1 | کانکور ازموینې د ثبت نام فیس | د ازموینو ملي اداري د تحویلی او کانکور ازموینې معلوم مصرف |
| 2 | د کتابتون کارونې فیس | نشته |
| 3 | د پارکنګ کارونې فیس | نشته |
| 4 | دویم او دریم چانس ازموینې | نشته |
| 5 | عدم کریډیت (باقیداري مضامینو) فیس | په اړونده صنف کې د فی کریډیت د حق الزحمې پر اساس |
| 6 | د محرومو مضامینو دویم ځل تعقیب فیس | په اړونده صنف کې د فی کریډیت د حق الزحمې پر اساس |
| 7 | د محصل د هویت کارت فیس | د معلوم مصرف لپاره |
| 8 | د محصلینو د فراغت غونډې فیس | په غونډه کې د فی محصل معلوم مصرف لپاره (اختیاري) |
| 9 | د ستاژ له تکمیل وروسته د فراغت داخلي تصدیق فیس | د معلوم مصرف لپاره |
| 10 | Character Certificate | د معلوم مصرف لپاره |
| 11 | Recommendation Letter | د معلوم مصرف لپاره |
| 12 | Bonafide Certificate | د معلوم مصرف لپاره |
| 13 | Attempt Certificate | د معلوم مصرف لپاره |
| 14 | Detailed Marks Certificate | د معلوم مصرف لپاره |
| 15 | English language proficiency Certificate | د معلوم مصرف لپاره |
| 16 | د یو کلنو او لنډ مهاله برنامو او کورسونو فیسونه | د جدا طرز العمل مطابق تاکل کیږي |

### اوومه ماده: حق الشمول (داخلې) فیس

1. په سپین غر د لوړو زده کړو موسسه (ننګرهار) کې د د کانکور ازموینې وروسته بریالي کاندیدان مکلف دي چې په پوهنځي کې د شمولیت لپاره د حق الشمول (داخلې) فیس د لاندې جدول په تعقیب تادیه کړي، د حق الشمول فیس د تخفیف تابع ندې.

| گڼه | تحصیلي رشته | د فیس اندازه | تفصیل (کتنې) |
|---|---|---|---|
| 1 | عمومي طب پوهنځی | 1000 اف | یوازې د یو ځل لپاره تادیه کیږي |
| 2 | غاښونو طب پوهنځی | 1000 اف | یوازې د یو ځل لپاره تادیه کیږي |
| 3 | طبي تکنالوژۍ پوهنځی | 1000 اف | یوازې د یو ځل لپاره تادیه کیږي |

2. که چیرې یو کاندید په کانکور ازموینه کې د د معیاري نمرو په ترلاسه کولو کې پاتې راشي او ناکام شي، نو د کانکور ازموینې د ثبت نام فیس بیرته نه ورکول کیږي.
3. د لیسانس په کچه د لوړو زده کړو د حق الشمول (داخلې) فیس د هر تحصیلي کال په خزاني او پسرلني سمسترونو کې یوازې یو ځل تادیه کیږي.

## اتمه ماده: د تادیې طریقه

1. د فیسونو په برخه کې د محصلینو ټول تادیات ددې لایحې د (۵) مادې د (۱،۶) فقرې د جدولونو سره سم تادیه کیږي، او د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې لخوا د هرې تادیې په بدل کې رسید ورکول کیږي، د مصؤن اسنادو قیمت چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ورکول کیږي د وزارت د تعرفې پر اساس د دولتي بانک له طریقه د وزارت بانکي حساب ته استول کیږي.
2. د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) محصلین باید خپل تادیات د موسسې بانکي حساب کې جمع کړي او په استثنایي حالاتو کې کولای شي چې په نغدي ډول د خپلو اړونده فیسونو تادیه ترسره کړي.
3. محصلین باید د سمستر ټاکل شوې فیس په قسطونو کې تصفیه کړي، د هر سمستر د قسطونو شمیر چې د سمستر د مجموعي مبلغ څخه زیات نشي د موسسې د مالي کمېټې لخوا ټاکل کیږي.
4. که چیرې یو محصل د اقتصادي یا عایداتي ستونزو له امله د زده کړو ټاکل شوې فیس په خپل وخت تادیه نکړي، سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) کولای شي د فیس د راټولولو مناسب میتودونه وکاروي، خو دا میتودونه باید د محصل د نظري او عملي زده کړو د خنډ او بې برخې کیدو باعث باید نشي.
5. د تادیاتو ترتیبات باید د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د مالي او اداري چارو مرستیال لخوا ترسره شي، د مالي او اداري چارو مرستیال مکلف دی چې په خپلو فعالیتونو کې پر عایداتو د مالیاتو قانون حکمونه، اصول او لارښوونې رعایت کړي.
6. که چیرې یو محصل د سمستر مکمل فیس تادیه کړی وي، او بیا د سمستر د تاجیل غوښتنه کوي نو پدې صورت کې محصل ته فیس بیرته نه ورکول کیږي یاد فیس به د محصل راتلونکي سمستر ته لیږدول کیږي.
7. که چیرې یو محصل د سمستر د دریمې اونۍ وروسته خپلې زده کړې ترک کړي تادیه شوی فیس به بیرته نه ورکول کیږي.

## دریم فصل

## تحصیلي خدمات، تخفیفونه او سکالرشیپونه

### نهمه ماده: با کیفیته خدمات

1. په سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) کې تحصیلي خدمات د لوړو زده کړو وزارت د پالیسیو سره سم د متخصص او تجربه لرونکو علمي کارکوونکو له خوا په عصري اسانتیاو سمبال ټولګیو، لکه ایل سي ډي، شنه او ارامه فضا، پارکینګ، تدریسي او څیړنیز فعالیتونه په لړ کې وړاندې کیږي.
2. موسسه د دولتي او خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسو تر منځ د رقابتي سیالۍ او نورې اړونده برنامې دایروي.
3. موسسه د محصلینو او علمي کارکوونکو د تدریس د کیفیت او علمي فعالیتونو د ښه والي په موخه علمي او تحصیلي خدمات وړاندې کوي.
4. مؤسسه د دولتي او خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسساتو سره په ګډه څیړنیز او علمي فعالیتونه ترسره کوي.

### لسمه ماده: د تخیفیف کڅوړې

1. د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د اُمناء هیئت او رهبري هیئت د تقنیني سندونو د حکمونو په رڼا کې د ټولنې اقتصادي حالاتو ته په کتو سره د یو سمستر یا هم د مکملې تحصیلي دورې لپاره تخفیفونه وضع کړي.
2. د ټولنې د وګړو، فرهنګي بنسټونو، علمي کارکوونکو، اړمنو محصلینو، شهیدانو او ورک شویو کسانو او معلولینو لپاره د تخفیف بستې د شرایطو سره تطبیق کیږي.
3. په سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) په موجوده پوهنځیو کې د هر ډول تخفیف کڅوړې د لاندې جدول پر بنسټ تنظیم او د تطبیق وړ دي.

**د پوهنځیو په کچه ممتاز محصلینو تخفیفونه**

| ګڼه | پوهنځي/په صنف کې درجه | د تخفیف اندازه | د تخفیف موده |
|---|---|---|---|
| 1 | د عمومي طب پوهنځي په کچه لومړی مقام لرونکی | 12000 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 2 | د عمومي طب پوهنځي په کچه دوهم مقام لرونکی | 9000 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 3 | د عمومي طب پوهنځي په کچه درېیم مقام لرونکی | 6000 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 4 | غاښونو طب پوهنځي په کچه لومړی مقام لرونکی | 5000 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 5 | غاښونو طب پوهنځي په کچه دوهم مقام لرونکی | 3500 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 6 | غاښونو طب پوهنځي په کچه درېیم مقام لرونکی | 2500 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 7 | طبي تکنالوژۍ پوهنځي په کچه لومړی مقام لرونکی | 4500 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 8 | طبي تکنالوژۍ پوهنځي په کچه دوهم مقام لرونکی | 3500 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |
| 9 | طبي تکنالوژۍ پوهنځي په کچه درېیم مقام لرونکی | 2500 | په ټاکلي فیس کې د یو سمستر لپاره |

**د نظري زده کړو د وروستي سمستر ممتازو محصلینو تخفیفونه:**

| ګڼه | پوهنځي/په صنف کې درجه | د تخفیف موده |
|---|---|---|
| 1 | د عمومي طب پوهنځي وروستي سمستر لومړی مقام لرونکی | په ټاکلي فیس کې د وروستي سمستر لپاره لس سلنه تخفیف |
| 2 | د غاښونو طب پوهنځي وروستي سمستر لومړی مقام لرونکی | په ټاکلي فیس کې د وروستي سمستر لپاره لس سلنه تخفیف |
| 3 | د طبي ټیکنالوژۍ پوهنځي وروستي سمستر لومړی مقام لرونکی | په ټاکلي فیس کې د وروستي سمستر لپاره پنځلس سلنه تخفیف |

**4.** د تخفیف پورتني نوعیتونه یا اندازې د اوسني اقتصادي شرایطو په پام کې نیولو سره د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د رهبرۍ لخوا په هر کال کې تجدید او ټاکل کیږي.

**5.** د ځینو ټولنو لپاره د تخفیف اندازې باید د موسسې د هیئت اُمناء بورډ د پریکړې وروسته د اړخونو ترمنځ د حقوقي سندونو (تفاهم یا تړون) سره سم ټاکل کیږي او د تطبیق کیږي.

**6.** د هغو تخفیفونو اندازه چې د سپین غر د لوړو زده کړو موسسې محصلینو لپاره په کال یا سمستر کې په نظر کې نیول کیږي یوازې په نوو محصلینو د تطبیق وړ دی، د پخوانیو یعنې برحال محصلینو په فیسونو او تخفیفونو اغیزه نکوي.

### یولسمه ماده: سکالرشیپونه

**1.** وړیا سکالرشیپونه د شهیدانو د ورثاوو او ورکو شویو اشخاصو د حقوقو او امتیازاتو د قانون د حکمونو په رڼا کې د هغه میکانیزم لخوا چې د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) د اُمناء هیئت او علمي شورا لخوا تصویب شوې وي اړونده مستحقو اشخاصو ته د پیژندنې وروسته اجراء کیږي.

**2.** ددې مادې په (۱) فقره کې اړونده اشخاص د یوې ځانګړې کمېټې چې د شهیدانو او معلولینو وزارت استازې پکې موجود وي او په سپین غر د لوړو زده کړو موسسې (ننګرهار) په اړونده پوهنځیو کې د ظرفیت پر اساس ورته اجراات کیږي.

**3.** سکالرشیپونه به د سپین غر د لوړو زده کړو موسسې د اړونده رشتو په نظر کې نیولو سره (۵۰) فیصده او (۱۰۰) فیصده پیژندل شوو مستحقینو ته اجراء کیږي.

## څلورم فصل

## متفرقه موارد

### دولسمه ماده: وړیا خدمتونه

په سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) کې وړیا خدمات د لاندې جدول له مخې تنظیم او وړاندې کیږي:

| ګڼه | د خدماتو نوعیت | د خدماتو موده | کتنې |
|---|---|---|---|
| 1 | کتاب خانه | د محصل د برحالۍ په صورت کې | |
| 2 | انترنیت کلپ | د محصل د برحالۍ په صورت کې | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 3 | رقابتي سيالی | د محصل د برحالی په صورت کې | |
| 4 | د نقليه وسايطو پارکينګ | د محصل د برحالی په صورت کې | |
| 5 | شنه او تفريحي ساحه | د محصل د برحالی په صورت کې | |
| 6 | ښيرنيز مرکز | د محصل د برحالی په صورت کې | |
| 7 | لابراتوارونه | د محصل د برحالی په صورت کې | |

### دیارلسمه ماده: سالم رقابت

سپين غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) د ټولنې په مختلفو برخو کې د ښه موقف ترلاسه کولو لپاره د نورو پوهنتونونو او لوړو زد ه کړو مؤسساتو سره د تحصيلي خدماتو د کيفيت په نظر کې نيولو سره په تحصيلي فيسونو کې د تخفيف سالمه سيالي ترسره کوي.

### څوارلسمه ماده: سالم رقابت

دا لایحه په (۴) فصلونو او (۱۴) مادو کې ترتيب او د موسسې د علمي شورا د () ګڼه () نېټې پروتوکول کې تائيد او د موسسې د هيئت اُمناء او د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو اتحاديې لخوا تائيد او د لوړو زده کړو وزارت لخوا منظور شوه.

| ګڼه | د تائيدۍ مرجع | لاسليک/مهر |
|---|---|---|
| 1 | د موسسې د هيئت اُمناء تائيدي: | |
| 2 | د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو اتحاديې تائيدي: | |
| 3 | د لوړو زده کړو وزارت منظوري: | |

د لايحې پای